# افغانستان د ليږد(انتقال) په بهيركې

## له ۲۰۱۴ميلادي كال څخه وروسته اقتصادي اړخونه

نوامبر ۲۰۱۱

د افغانستان اسلامي جمهوريت
د ماليې وزارت

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Ministry of Finance**

THE WORLD BANK

# د لیږد د پروسې چوکاټ



- په ۲۰۱۰میلادي کال کې دکابل اولسبون د کنفرانسونود پرېکړوپه اساس له بهرنیوځواکونوڅخه افغاني ځواکونوته امنیتي مسؤولیتونه وسپارل شول اوزیاتره بهرني ځواکونه به له افغانستان څخه ووځي .
- تجربې څرګندوي چې د نړیوالو ځواکونووتل د ملکي مرستود کمښت سبب هم ګرځي، چې د هغو اغېزې به مستقیماً په اقتصادي وده، د مالي چارو د پایښت دوام اود خدمتونوپه برابرولو باندې وي.
- په بودیجه کې احتمالي کمښت کولی شي چې امنیت او وروستۍ پرمختیایې لاسته راوړنې له ګواښ او خطر سره مخامخ کړي، چې دا کار د دولت او نړیوالې ټولنې ترمینځ د اندېښنې او ګډوډۍ سبب ګرځي.

# د دې رپوټ مهم ټکي

- د مرستو د برابرولو د اندازې اوميکانيزم پېژندل.
- د دولت په مالي سرچينو (منابعو) او د خدمتونوپه برابرولو باندې د نړيوالې ټولنې د مرستو د کمښت پر عواقبو باندې بحث.
- پراقتصادي وده باندې د مرستو د کمښت احتمالي اغېزې .
- د نړيوالو تجربو شريکول .
- وړانديزونه او د حل لارې .

۴

# د افغانستان له پاره مرستې: اندازه او د برابرولو میکانیزم

# افغانستان: د نړۍ له هیوادونو څخه د زیاتو مرستوترلاسه کوونکی دی



- په ۱۳۸۹ لمریز کال کې دافغانستان له پاره نړیوالې مرستې تقریباً ۱۵،۷ ملیاره امریکایي ډالره وې، چې د دې هیواد له نا خالصه داخلي عوایدو (GDP) سره برابر دي.
- یو محدود شمېر نورهیوادونه، لکه د غزې ترانګې او لايبيريا، دهغو هیوادونوله ډلې څخه دي چې تقریباً د افغانستان په اندازه له نړیوالې ټولنې څخه مالي مرستې تر لاسه کوي .




**یادښت:** د مرستو اټکلي ارقام اوشمېرې د تمویلونکو دسروې او تادیاتو په رڼا کې له بېلابېلو منابعو څخه، لکه،دامریکا دخارنې د اداري پلټونکې، د امریکا د خزانې دوزارت رپوټونه او د قراردادونوپه اړه د نورو منابعو څخه برابرې شوې دي.

# مرستې په بېلابېلو بڼواو دولو برابرې شوې دي



- په ۱۳۸۹ لمریز کال کې ددولت دبودیجې د مجرا له لارې اوله بودیجې څخه بهر عامه لګښتونه ۱۷،۱ میلیارده امریکایي ډالر وو.
- **د دې لګښتونو له مجموعي څخه ۱۵،۷، میلیارده ډالر یې د نړیوالې ټولنې د مرستو له لارې برابرې شوې اویوازې ۱،۹ میلیارده ډالریې دملي بودجې له لارې لګول شوې دي .**

## (۱۳،۸ میلیارده ډالره) د ملي بودیجې له مجرا څخه بهر




## (۳،۳ میلیارده ډالره) د بودیجې ټول مجموعي لګښتونه







په کال ۱۳۸۹ کې د ملي بودیجې تمویل

سرچینه (منبع): د نړیوال بانک کارکوونکي

# د افغانستان له پاره تولې مالي مرستې په دې هیوادکې نه مصرفیږي



- د بېلګې اومثال په توګه په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالتونولګښتونه له ۴۴۴میلیاردو ډالرو څخه زیات دي (یوازې په ۲۰۱۱مالي کال کې ۱۱۸،۶ میلیارده ډالراټکل شوي دي).
- خو زیاتره دغه لګښتونه آن دا چې افغانستان ته نه دي رارسېدلي، ځکه چې د سرتېروتنخواګانې، د پوځي وسایلو او تجهیزاتو اونورو خریدارۍ له دې مبلغ څخه له افغانستان څخه بهر ترسره شوي دي .
- سر بېره پردې د نړیوالې تولنې پاتې مرستې هم په کورني اقتصاد کومه اغیزه نه لري، ځکه چې د جنسونو د واردولو له لارې د بهرنیو سلاکارانو معاشونه بیرته له افغانستان څخه بهر ته لیږدول کیږي.

**د افغانستان له پاره د نړیوالو مرستو دبڼو اونوعیت سلنه (فیصدي)**

| | دملي بودیجې له مجراڅخه | له بودیجې څخه بهر |
|---|---|---|
| دامنیتي سکتور مرستې | له ۹۰ څخه تر۹۵پورې | له ۱۰څخه تر ۱۵ پورې |
| ملکي مرستې | له ۷۰ څخه زیاتې | له ۲۰ څخه تر ۲۵پورې |

منبع: د نړیوال بانک د کارکونکو محاسبه

٨

# د اقتصاد پروده اود خدمتونوپه وړاندې کولو باندې د مرستود کمښت اغېزې

# کېدای شي کورني عواید زیاتوالی ومومي، ولې په عین وخت کې به د عادي بودیجې لګښتونه هم ډېر زیاتوالی ومومي



- په پام کې دي چې کورني عواید په اوس وخت کې د ټولو نا خالصو کورنیو عوایدو له په سلو کې ۱۰ څخه په ۲۰۲۱/۲۲ میلادي کال کې د کانونود مالیو اود اقلامو داضافي ارزښت د پلان شویو مالیو دراټولولو له لارې ۱۷،۵ ته زیاتوالی ومومي .

خوپه عین وخت کې په دې لاندې سکټورونوکې لګښتونه هم زیاتیږي :

**امنیت:** د امنیتي سکټور تنخواګانې په اوس وخت کې له په سلوکې ۷څخه له ناخالصو کورنیو عوایدو څخه به په سلو کې ۱۰ته د۳۵۲۰۰۰عسکرو له پاره وررسیږي او د ساتنې اوځارنې (حفظ ومراقبت) لګښتونه به له په سلو کې یو څخه د ناخالصو کورنیو عوایدو په سلو کې ۱۰،۵ (۳،۵ ملیارده ډالره په هر کال کې د۲۰۱۱کال دارزښت په اساس) تر ۲۰۱۴/۱۵ کال پورې ورسیږی .

**ملکي سکټور:** د ملکي کارکوونکوتنخواګانې د کورنیو نا خالصو عوایدو له په سلو کې ۵ څخه په سلو کې ۹ته زیاتوالی مومي.اودهغوزېربناوودساتنې اوځارنې لګښتونه،چې پر هغوتمویلونکوپانګه اچونه کړېده، تر ۲۰۱۴/۱۵ م کال پورې به له په سلو کې یو څخه په سلو کې ۴ ته زیاتوالی مومي (۱،۳میلیارده ډالره په ۲۰۱۱م کال کال کې دپیسو دارزښت په اساس )ددې ټولو لګښتونومجموعه کېدای شی چې په ۲۰۲۱/۲۲ م کال کې دکورنیو عوایدو دوه برابره وي.

### د بودیجې له لارې دعوایدو اولګښتونومجموعه




منبع: دنړیوال بانک دکارکوونکو محاسبه

# د پيشبيني شويو مالي سرچينو(منابعو) کمښت : په ۲۰۲۱/۲۲م کال کې د کورنيوناخالصوعوايدوتقريباً په سلو کې ۲۵



د پيشبيني شويو لګښتونومهم شاخصونه :

- د امنيتي سکټور اضافي لګښتونه (معاشونه اود ساتنې اوڅارنې لګښتونه ) د ناخالصو کورنيو عوايدو په سلو کې ۱۴،۵ دی، چې اوس يوازې دولت يې په سلو کې ۳له خپلو منابعو څخه برابروي .
- د ملکي سکټور لګښتونه (عادي بوديجه) د ناخالصو کورنيوعوايدوپه سلو کې ۱۵،۵جوړوي .
- د انکشافي سکټورلګښتونه ، د ناخالصوکورنيو عوايدوپه سلو کې ۱۰دي (کېدای شي چې په کال کې په سلو کې ۱۰ د بوديجې په تطبيق کې بنه والی ولېدل شي)

ټول پيشبيني شوي لګښتونه (دناخالصوکورنيوعوايدو په سلو کې ۴۳)او په عين وخت کې دپيشبيني شويوعوايدو راټولول به دناخالصوکورنيوعوايدو په سلو کې ۱۷،۵ د کورنيو ناخالصو عوايدو تقريباً په سلو کې ۲۵ دمالي منابعو دکمښت (۷،۲ميليارده ډالره د۲۰۱۱م کال دارزښت په اساس ) سبب وګرځي .

**يادښت:** داپيشبيني په ۲۰۲۱/۲۲م کال کې ده ،زماني بدلونونه په تېرمخ کې ونيول شول.

## په ۲۰۲۱/۲۲م کال کې دمالي چاروپېشبيني (دکورنيوناخالصوعوايدوسلنه )



# په ۲۰۲۱/۲۲م کال کې د مالي سرچينو(منابعو) د کمښت مديريت



**د مالی منابعوکمښت، له امنيتي سکټورپرته**
**(د ناخالصوکورنيوعوايدوسلنه، له وړيا مرستوپرته)**




**د نړيوالې ټولنې مرستود کورنيو ناخالصوعوايدو په سلو کې ۲۵ رفعه کړي دي.**

په داسي حال کې چې مرستې کېداى شي، څينې دغه لګښتونه احتوا کړي، له مناسبوبدلونونو څخه يوښايي دا لاندې غوراوى اوانتخاب وي :

- ملي بوديجه ښايي وکړاى شي د ملکي سکټور د خارني اوساتنې لګښتونه (۱،۳ميليارده ډالره ) اود امنيتي سکټورمعاشونه چې اندازه يې د ۲۰۱۰ م کال په څېر ده، تمويل کړي .
- تمويلوونکي نورپاتي لګښتونه، چې په کې د نظاميانو معاشونه اود څارنې اوساتنې لګښتونه شامل دي، برابروي.
- کېداى شي تمويلوونکي د خپلومرستوپه سلو کې ۱۱ دا بوديجې له لارې زيات کړي

# د مالي سرچينو(منابعو) کمښت په دې اندازه دوام نه شي کولی



د مالي منابعوکمښت اوکمبود رفع د نړيوالې ټولنې دمرستواويا په کورنيولګښتونوکې د کتنې وړکموالي غوښتنه کوي:

د امنيتي سکټور د لګښتونو د کمښت په دې معنا دی چې:

- د امنيتي ځواکونوکمښت اويا د نظامي تجهيزاتودساتنې اوڅارنې په لګښتونوکې کموالی .
- ناقصې اونيمګړې امنيتي زېربناوې اومحدود امنيتي فعاليتونه .
- کېدای شي د وضعې اوحالت کړکېچن والی اوخرابی د خصوصي سکټور پرمختيا اودکانونوپه سکټورکې پانګه اچول له ګواښ اوتهديد سره مخ کړي، چې دا کاربه د کانونود عوايدو د کمښت سبب وګرځي .

او يا

له داخلي منابعوڅخه د امنيتي لګښتونوتمويل د دې موارد و د کمښت سبب ګرځي:

- د پرمختيايي پروژوتمويل، د خدمتونوپه برابرولوکې ګډوډي اوځنډونه .
- د ملکي سکټور د څارنې اوساتنې لګښتونه، چې کېدای شي د هغوزېربناوو دله منځه تللوسبب وګرځي چې د تمويلوونکو په مرسته جوړې شوي دي .
- د اصلاحاتو دپروسې له پاره دې لګښتونه وشي، چې دا کاربه د دولت د کمزورې کېدو او د خدمتونود وړاندې کولود کيفيت د ټيټېدوسبب وګرځي.

# د مرستود جذبولود ځواکمنی پیاوړتیا



## دپرمختیایي بودیجې دتطبیق څرنګوالی




منبع: محاسبه کارمندان بانک جهانی

- د پرمختیایي بودیجې تطبیق زیاتوالی موندلی، خوپه تیروڅلوروکلونوکې له یومیلیارد ډالروڅخه کمه وه، چې مهم دلیلونه یې د کارونوپه ځواکمنی کې محدودیت، د بودیجې غیرواقعي سنجش، دتمویلوونکوتخصیص اود مرستو په ورکولوکې ځنډاو خنډ (سکتګی)
- په داسي حال کې چې دعادي بودیجې تطبیق ډېربنه و، خوافغانستان د ځارنې اوساتنې د لګښتونوزیات کادري ظرفیت نه لری (د ساتنې اوڅارنې لګښتونه تقریباً ۳۳۵ میلیونه ډالره اویا د ټولو کلیدي لګښتونو په سلو کې ۱۰ دي) چې دا شمېراورقم په پام کې دی په ۲۰۱۵/۱۶میلادي کال کې ۴،۸ میلیاردو ډالروته زیاتوالی وموMی .
- له مرکزڅخه ولایتونواو ولسوالیو ته د بودیجې د اغېزناک تخصیص په ډګر کې ډېرې ستونزې شته دي . او د ولایتونواوولسوالیو په سطحه د کارونوظرفیت کچه ډېره ټیټه ده.
- د بودیجې د ډېربنه مدیریت له پاره د کادرونود ظرفیت د لوړتیا په برخه کې پانګه اچونه یوله ډیرومهمولومړیتوبو نو څخه ګڼل کیږي.

# د خدمتونود وړاندې کولواود بوديجې د تطبيق د سطحې د لوړولوله پاره د ظرفيت لوړول



- د بوديجې له لارې د لګښتونود زياتوالي اوتداوم اود خدمتونووړاندې کولوله پاره ضروري ده، چې د وزارتونود کارکوونکو د ظرفيت د لوړولوپه خاطربېړنی اوعاجلې کړنې ترلاس لاندې ونيول شي .اوهمدارنګه داډترلاسه شي چې مجرب اوتجربه لرونکي کارکوونکي استخدام شي اوهغوی په منځ مهال کې په دولتي ادارو کې کار وکړي .

- په داسې حال کې چې د ظرفيتونود لوړولوپه خاطر په ميلياردونوډالر لګول شوي دي، خو دا کار عملاً په پروژوکې له ۷۰۰۰۰څخه زياتو تجربه لرونکو کارکوونکو په لرلو سره د دوهمې ملکي خدمتونود رامينځته کېدوسبب شوي دي، پرته له دې چې د دولتي کارکوونکو ظرفيت ته يې لوړتيا ورکړې وي .

- په ۹وزارتونوکې په سلو کې ۵ پوستونه هغه کارکوونکي تشکيلوي چې له بهرنيو منابعو څخه تنخوا(معاش)اخلی، خودهغوی معاش د معاشونو دلګښتونوپه سلو کې ۴۰ برخه جوړوي. د بستونوکمول، چې د بهرنيومنابعوله خوا د انتقال په بهير کې تمويليږي، کېدای شي د خدمتونوپه وړاندې کولو کې د خنډونواوځنډونوسبب شي. ځکه چې د دولت په نسبت تقاضا زياتوالی مومي .

- تمويلونکی بايد هڅه اوهلې ځلې وکړي چې د معاشونو ورکړه په پراکنده اوخوره وره بڼه کمښت ومومي او د ظرفيت انتقال په ستراتيژيکه اومنظمه بڼه د دوهمې ملکي خدمتونوڅخه د دولتي نظام ته ترسره شي . د دې کار په سرته رسېدلوسره نه يوازې د نړيوالې ټولنې نورو ډېرو لږو منابعو ته اړتيا ده، بلکې دا کار په ملکي نظام کې د ثبات اوټينګښت د رامينځته کېدو سبب هم ګرځېدای شي .

# کېدای شي د اساسي اوبنسټیزوخدمتونوورانديِ کېدل له زیان اوخطرسره مخامخ شي



| | پوهنه | روغتیا | کلي | ترانسپورټ | برېښنا |
|---|---|---|---|---|---|
| د دولت له پرمختیایي بودیجې سره مرستې (د بودیجې سلنه) | $163m (23%) | $124m (62%) | $358m (83%) | $253m (73%) | $89m (50%) |
| د ساتنې اوڅارنې اټکلي لګښتونه ([۲۰۱۱/۱۲کمښت] ) | $235m (–$205m) | $77m (–$67m) | $11m (–$3m) | $394m (–$317m) | $297m (-$258m) |

## د لیږد اوانتقال د پروسې احتمالي اغېزې




- د مرستو دکمښت له امله پروژې اوڅارنې اوساتنې د لګښتونولپارتمویل اوتداوم، اودخدمتونوورانديِ کول له خطر سره مخامخ کېږي.
- په سکټورونوکې خطرونه توپیر لري :
  - د ترانسپورټ اوروغتیا سکټور ډېرزیان منونکی سکټورونه دي ، ځکه چې هغوی دنړیوالې ټولنې په ډېرو مرستو اودساتنې اوڅارنې په تېتو لګښتونوتکیه لري .
  - کېدای شي د برېښنا سکټورډېر زیانمن نه شي ،ځکه چې د صرفیو د راټولولو له لارې د هغوی لګښتونه مرفوع کېږي .
  - د پوهنې زېربناوې سره له دې چې د تمویلوونکوپه مرستومتکې نه دي، خود ساتنې اوڅارنې لګښتونه په سمه توګه نه دي تمویل شوي .

# د مرستودکمښت په صورت کې، افغانستان په راتلونکوکلونوکې له لازیاتوبودیجوي ستونزوسره مخامخ کیږي



- هم د افغانستان  دولت اوهم تمويلوونکي بايد د خپلولګښتونود خرنګوالي په اړه کلک تصميمونه ونيسي .
  - هغه شمېرپروژې دې وټاکل شي، چې اقتصادي وده پياوړې کړي اوپه سمه توګه اجراء شي او پايښت لرونکې هم وي .
  - د ساتنې اوڅارنې د لګښتونولومړيتوب بندی کول د سکټوررونو ترمنځ اوفرا سکټوري معاملو ته اړتيا لري .
  - د تولنيزو لګښتونودوام اود اساسي خدمتونوبرابرول، لکه : پوهنه، روغتيا، کليوالي اقتصاد.
- دعوايدوراتولول بايد ښه والی ومومي، ترڅوټاکلې موخې اوهدفونه ترلاسه شي. دعوايدو دېې ځايه تلود کمښت له پاره دې دغه اقدامات ترلاس لاندې ونيول شي :
  - په ګمرکي نظام کې د لازمواوضروري اصلاحاتو تطبيق.
  - د مناسبومالیو د اداري اوتطبيق (VAT) له پاره د لازم ظرفيت رامينځته کول.
  - د کانونودعوايدود راټولولوله پاره د شفاف حساب ورکولود ميکانيزم رامنځته کول .
- د دولت ظرفيت بايد دبوديجې له لارې د پروژو دتطبيق په خاطر ښه والی ومومي.

# ۱۷

# مرستي او اقتصادي وده

# په افغانستان کې ځينې پرمختيايي شاخصونه



- افغانستان په نړۍ کې يو ډېر وروسته پاتې هيوادپه توګه پاتې دی .
  - ۳۰،۶ميليونه نفوس لرى اوپه ۲۰۱۰/۱۱ميلادي کال کې کورني سرانه نا خالصه عوايد ۵۲۸ډالره دي. افغانستان د نړۍ د ۱۰غريبو هيوادونوله جملې څخه ګڼل کيږي .
  - په ۲۰۰۸ ميلادي کال کې يې له په سلو کې ۳۶ څخه زيات نفوس دفقراوغربت تر خط او کرښې لاندې ژوندکاوه اوله نيمايي څخه زيات نفوس يې زيان منونکی ګڼل کيږي .
  - د ماشومانود مړيني اندازه (په هرو۱۰۰۰ژونديوزيږېدلوکي ۱۳۴)په نړۍ کې ډېر لوړشمېر دی .
  - په دې هيواد کې د عمرمنځنۍ اندازه ۴۸،۱کاله ده.
  - د دې هيواد په سلوکې ۷۵وګړي بې سواده دي .
- **د نفوس په سلوکې ۲،۸په زياتوالي سره، افغانستان د کتني وړاقتصادي ودې ته اړتيا لري، ترڅو چې غربت راکم کړي اوپرمختيايي لاسته راوړنوته ښه والی ورکړي .**
- **لازمه ده چې اقتصادي وده په سلو کې ۶ترسره شي، ترڅوچې په راتلونکودوه ويشتو کلونوکې ناخالصه سرانه عوايد دوه برابره شي (تقريبا يو نسل په برکې نيسي)**

# په وروستیوکلونوکې اقتصادي وده



- له ۲۰۰۳/۰۴ څخه ۲۰۱۰/۱۱ کلونوپورې د کورنیو ناخالصه عوایدو د ودې منځنۍ اندازه په سلوکې شاوخوا ۹،۱ وه. (۸،۴ سلنه پرته له هغه کلونو چې وده په کې زیاته وه)
- خصوصي پانګه اچونه (د کورنیوناخالصه عوایدوپه سلو کې ۸،۵ ) اوصادرات (د کورنیوناخالصه عوایدو په سلوکې ۲،۵) ډېرلږ اود ناخالصه کورنیوعوایدو په وده کې یوازینی محرک مصرفي بازاردی.
- داسې هیله اوتوقع کیږي چې دکانونوسکټور د ودې ډېر مهم محرک شي .
- د راتلونکې ودې په وړاندې مهم محدودیتونه اوخنډونه: ناامني، په وچه پورې احاطه کېدل، کمزوری اقتصادي بنسټ.

## اقتصادي وده دکتنې وړده




## اوپه کرنیزومحصولاتوکې بدلون



# دامنيت تأمين، داقتصادي ودې له پاره ستره اړتيا



- وچکالي، ناامني،دغذايي موادو اونفتوپه نرخ کې بدلون، اوحکومتداري کولی شي پراقتصادي حالت ناوړه اغېزه ولري .
- په يوه مناسبه سناريو کې کېدای شي اقتصادي وده په کال کې په سلو کې له ۴،۶ څخه تر ۶،۲ پورې له ۲۰۱۱څخه تر ۲۰۱۸کلونوپورې ترسره شي اوکېدای شي په سلو کې له ۳ څخه تر ۴ پورې دپانګې اچونې په شرايطو اوزېربناوو کې ښه والی (په هغه صورت کې چې اوس پيل شي )داقتصادي ودې سبب کيږي .
- د امنيتي حالت اوحکومتدارۍ دډېرخرابوالي په صورت کې کېدای شي اقتصادي وده په منفي لوري حرکت وکړي .

**کليدی احتمالات**

د مرستو تدريجي کموالی ( تر ۲۰۲۵ م کال پورې په سلو کې لس  نا خالص کورني عوايد) د پانګې اچونې د شرايطو ښه والی، د مخدره توکو اقتصاد احتمالاً ثابت پاتې کيږي (بې له ودې) د ساختماني سکتور سسته او کمزورې وده ، ترانسپورت او کالي.

کرنه: په هر کال کې په منځنۍ کچه د کرنيزو محصولاتو وده.

دولت: د مرستو چټک کموالی، د کانونو استخراج، د محصولاتو د ودې نشتوالی او د افغانی د ارزښت کمښت.

د پورتنيو سناريوګانو برسيره، د ۱۱ نور و کانونو استخراج ښايي امکان پذير شي

**په ۲۰۱۱-۲۵ کلونوکې د پيشبيني شويو نا خالصو کورنيو عوايدو د ودی تحليل**



# د مرستوکمښت پر اقتصادي وده څه اغېزه لري؟



**احتمالي سناریوګاني : د ۲۰۱۱/۲۵ کلونودکورنیو ناخالصوعوایدود ودې پیشبیني**

**احتمالات**

د مرستوتدریجي کمښت (تر۲۰۲۵م کال پورې د کورنیوناخالصوعوایدوپه سلو کې ۱۰) د پانګه اچونې د چاپیریال اوشرایطوښه والی .
د مرستوپه برابرولو کې چټک کمښت (تر۲۰۱۸م کال پورې په ناخالصوکورنیو عوایدو کې په سلو کې ۱۰)
د مرستوتدریجي کمښت، خو د مرستوپه سلو کې ۵۰ دبودیجي دمجراله لارې.




- د مرستوچټک کموالی اقتصادي وده تر۲۰۱۸میلادی کال پورې په سلو کې تر ۵،۵ پورې کمه کړې ده اوپه اوږده مهال کې نسبت لګښت اوپانګه اچونې ته تقریبا په سلو کې ۳ راکم شی .
- د بودیجي له لارې د زیاتو مرستو جلبول دسیمه ییزو فرصتونودزیاتوالي سبب ګرځي اوکولی شي د لېږدوني (انتقال) د لومړي کال ځینې احتمالي خطرونه رفع کړي، دا په داسې حال کې دي چې د مرستو د جذبولو ځواک د یوې ننګوني اوچلنج په توګه په خپل حال پاتې دی اوباید هغې ته رسېدنه وشي .

# کېدای شي د مرستو د کمښت د ویش اغیزې نابرابر وي



- د خدمتونوپه وړاندې کولو کې خنډونه اوځنډونه کېدای شي په ټولو ولایتونوکې د کورنیوترمنځ محسوس شي .
- د مرستو چټک کمښت کېدای شي په دې لاندې دلیلونو پر غریبو اوبېوزولو خلکو باندې لړوي :
  - ځکه چې د مرستو ډېره لړه برخه غریبووګړو ته رسیږي، زیاتره مرستې دغربت دکمښت له پاره نه، بلکې د امنیت اوحکومتدارۍ د ښه والي له پاره وراړول شوي دي .
  - مرستې په سمه توګه نه دي ویشل شوې، داسې ښکاري چې زیاتره مرستې هغوولایتونو کې، چې د غربت اندازه په کې کمه اود خلکو د اقتصاد سطحه ښه وه، مصرف شوي دي .
- کېدای شي د مرستو چټک کموالی په ولایتونوکې په متفاوته بڼه محسوس شي، په هغو ولایتونوکې چې جګړه روانه ده اود ښارونو په مرکزونوبه دا اغېزې ډېرې وي، ځکه چې دغو سیمو اوځایونو ډېرې مرستې ترلاسه کړې دي .
- کېدای شي د مرستو کمښت، د کار کسب د لړولاروچارود رامینځته کېدو سبب شي، نه بیکاري .
  - خېړنې ښایي چې زیاتره دندې اوکارکسبونه، چې د مرستوله لارې تمویلیږي، لنډمهالي دي (له شپږومیاشتو څخه لږ)
  - داسې اټکل کیږي چې د بودیجې له مجرا څخه بهرپه مرستو کې ترنیم میلیارد ډالرو پورې کمښت کېدای شي له ۱۸۰۰۰څخه تر ۱۱۰۰۰پورې دندې اوکارکسبونه متاثراواغېزمن کړي .
  - د لږمهارت لرونکو کارکوونکو ترمنځ د کارکسب د لاروچاروکمښت د ترانسپورت، ساختماني اوفابریکو په سکټورونواوهمدارنګه دهغو شمېر کسانوترمینځ، چې مستقیما په پروژو کې کارکوي ،محسوس شي.

# نہریوالي تجربې

# له نړیوالو تجربو څخه زده کړې



- د مرستوچټک کمښت دناامنی،دمالي نظام د له منځه تللو، د دولتي حاکمیت د له منځه تللو اوکېدای شي د کورنیو جګړو سبب وګرځي (سومالیا )
- د دولت سیاسي ثبات اوتینګښت (د ایتلاف درامنځته کولو پربنسټ)د انتقال د پروسې د بریالیتوب اساسي کلي ده . (موزمبیق ،روندا،کمبودیا او مالي )
- مؤقت سیاسي زدوبندونه (سوډان) د زیاتو ناامنیوسبب وګرځیدل اوکېدای شي سیمه ییزوفرصت طلبان د جګړې اور بل کړي (د کانګو ډموکراتیک جمهوریت )
- د انتقال دپروسې په بریالیتوب سره بشپړېدنه مناسبې اقتصادي ودې ته اړتیا لري، د مثال په توګه: د موزمبیق اوروندا هیوادونو کې، خو د انتقال د پروسې په نابریالیتوب سره بشپړېدل د لړې او منفي اقتصادي ودې سبب شي .

**تجربې د دې څرګندويې دي چې د انتقال په پروسه کې سم مدیریت او ځینې مهم ټکي ،چې په مخکې مخونو کې هغو ته اشاره وشوه، د ځانګړې اهمیت لرونکي دي .**

# وروستی کړنې (وړاندیزونه)

# د افغانستان دولت له پاره:



- خپلې اړتیاوې د محدودولاس کې لرلو منابعوپه اساس لومړیتوب بندي کړي .
  - په سکټورونو کې لګښتونه باید په دقیق ډول لومړیتوب بندي شي .
  - د نویو پانګه اچونوپه خاطر باید په هرډول تصمیم نیولو کې دساتنې اوڅارنې لګښتونه په پام کې ونیول شي .
  - د زېربناوو په خاطر لګښتونه به د خصوصي سکټورپه رهبری کې د زیاتې احتمالي ودې سبب شي .
- د عامه مالي مدیریت سیستم اوبودیجوي پروسه دې پیاوړې کړي، ترڅود عوایدو په راټولولوکې د ناوړه استفادې مخه ونیول شي.
- په سترودولتي برخوکې د اداري اصلاحاتو دوام په کلیدي وزارتونواو سیمه ییزو ادارو کې د ظرفیت د لوړولو د نوښتګره پروګرام د تطبیق په شمول اود دوهمې ملکي خدمتونوقانونمند کول .
- له اوسني حالت څخه داقتصادي ودې تحرک، چې اساسا د مرستواو مصرفي بازار پواسطه ترسره کیږي، په اقتصادي وده د خصوصي سکټور له پاره د لازمو شرایطو اوفرصت په رامینځته کولو سره،چې په متشبثه اواختراعي بڼه فعالیت وکړای شي.
- د منابعوسالمه اداره اومدیریت او ولایتونو ته دهغو متوازن ویش، ترڅو دا ډاډترلاسه شي، چې ولایتونه په سمه توګه خپل تخصیصونه ترلاسه کوي اوپه ولایتونوکې د سرانه لګښتونواندازې توپیر نسبت له بودیجې څخه د باندې مرستو ته څرګند نشي.

# د نړیوالې ټولنې له پاره:



- دا ډاډ ترلاسه کړي، چې مرستې په تدریج ،دپیشبینۍ وړ اوپه منظمه توګه کمې شوې دي، څکه چې د مرستو چټک کمښت، په ځانګړې توګه دمرستوپه یوځل بندېدل، ډېرزیان رسوونکي دي، چې د نظام د سقوط لامل اوسبب ګرځې.
- خپلومرستوته دې د معاشونود تمویل اود امنیتي سکټورد نوررولګښتونوله پاره ترهغه وخت پورې دوام ورکړي، چې امنیتي حالت ښه والی ومومي او د امنیتي لګښتونواندازه کمه شي .
- له دولت سره د ملکي لګښتونوپه برخه کې، دعامه سکټور د پانګې اچونې د ساتنې اوڅارنې د لګښتونود تمویل په شمول،په ځانګړې توګه په هغه صورت کې چې دامنیتي سکټور اړتیاوې زیاتې وې، مالي حمایت اوملاتړوکړي.
- د دوهمي ملکي خدمتونواستخدام اود معاش اندازه په یو چوکاټ کې تنظیم کړي او د دولتي ادارو په چوکاټ کې د هغو ادغام له پاره دې لازم پلانونه ترلاس لاندې ونیسي .
- د خپلومرستوزیاته برخه دې د ملي بودیجې له لارې مصرف کړي، ترڅود مرستو د کمښت له امله رامینځته شوې اغېزې راکمې کړي . خپلوتخنیکي اومشورتي مرستو ته دې ولایتونوته د مرستوپه ځانګړې پاملرنې سره د بودیجې د تطبیق د بهیرد ښه والي له پاره دوام ورکړي .
- له افغانستان سره دې د سوداګریزو اوترانزیتي محدودیتونود رفع کولو له لارې د نړیوالوبازارونو سره د دغه هیواد د اتصال په برخه کې د زېربناوو په جوړولو، لکه سرکونه اود ریل کرښې د کانونود سرشارومنابعوڅخه د ګټې اخیستنې په منظورلازمه مرسته او همکاري وکړي .